# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پریکړه لیک

| | |
|---|---|
| د پریکړې شمېره | ۲۳-۱۳۹۲ |
| موضوع: | د ولسي جرګې د مستعفي استازو د ځایناستو معرفي. |
| مرجع | د ټاکنو خپلواکمیسیون دارالانشا |
| د جلسي نېټه او ځای | ۱۳۹۲ کال د میزان ۱۶ (۲۰۱۳ کال د اکتوبر۸) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر |
| حاضر غړي: | ښاغلی ډاکتر احمدیوسف نورستانی، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، اغلې ګلالی اڅکزی، ښاغلی پوهاند محمدحسین ګرزیواني، ښاغلی محمد عزیز بختیاري، ښاغلی قاضي سلېمان حامد او اغلې لیلا احراري . |

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ټاکنو قانون د (۲۴ ) مادې د (۳) فقرې حکمونو ته په پام

## د ټاکنو خپلواک کمیسیون پریکړه کړې چې:

### الف:د کتني په موخه باورلیک:

۱. د ښاغلیو (عبدرب الرسول سیاف، سیحسین عالمي بلخي، ابراهیم قاسمي او سیدحسین انوري ) چې په ولسي جرګه کې د کابل ولایت استازي وو او د ۱۳۹۳ کال ولسمشریزو ټاکنو کې د ګډون په موخه یې له خپلو څوکیو څخه استعفاوې وکړې، د ۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې ټاکنو د پایلو په اړه د کمیسیون د برابر شوي لېست له مخې دې د دوی پر ځای هر یو ښاغلی (قدرت الله سهاک، حاجي مهدوي، عبدالقادر ځاځی وطندوست او الحاج زمری پادخوابي) د افغانستان د اسلامي جمهوری دولت په ولسي جرګه کې د کابل ولایت د استازو په توګه معرفي شي.
۲. د ښاغلي سیداسحاق ګیلاني پرځای دې چې پخوا په ولسي جرګه کې د پکتیکا ولایت استازی وو او د ۱۳۹۳ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې د ګډون په موخه یې استعفا وکړه، نو د ده پرځای دې ښاغلی حاجي عبدالقدیر په ولسي جرګه کې د پکتیکا د خلکو د استازي په توګه معرفي شي.
۳. ښاغلی شاه عبدالاحد افضلي چې پخوا په ولسي جرګه کې د بدخشان ولایت استازی وو او د ۱۳۹۳ کال ولسمشریزو ټاکنو کې د ګډون په

موخه يې په ولسي جرګه کې له خپلې څوکۍ څخه استعفی کړې، د ده پر ځای دې د ۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې ټاکنو د پایلو له مخې د کمیسیون د برابر شوي لېست مطابق ښاغلی عبدالولي نیازی په ولسي جرګه کې د بدخشان د خلکو د استازي په توګه معرفي شي.

| له پرېکړې سره په مخالفت کې | د غړو نومونه | د پرېکړې تاید |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکټر محمدیوسف نورستانی | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکي | |
| | اغلې ګلالۍ اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سریراحمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلېمان حامد | |
| | اغلې لیلا احراري | |
| | اغلې شریفه زرمتۍ وردک | |